# امریکا ولې افغان څواکمنان یو په بل پسې له واکه شړي!؟



**خبر:**

افغان جمهور رییس د دفاع وزارت څه باندې ۱۶۴ جنرالان تقاعد کړل. نوموړي د یکشنبې په ورځ په خپله ټویټرپاڼه کې په یوه پیغام کې وویل: "د افسرانو د ذاتي چارو قانون د عملي کېدو لپاره، ما د ۱۶۴ جنرالانو احترامانه تقاعد لاسلیک کړ. موږ اصلاحات د جګړې او سولې د ګټلو لپاره غواړو، اصلاحات یوازې د اصلاحاتو لپاره نه غواړو، دا بهیر به زموږ د روښانه راتلونکي لپاره دوام ومومي." د امنیتي او دفاعي بنسټونو د دوو زرو جنرالانو او لوړ پوړو افسرانو د تقاعدۍ طرحه د تېر میلادي کال د نومبر په میاشت کې د افغان پارلمان له خوا تصویب شوه، چې په ترڅ کې یې د افغانستان د دفاعي او امنیتي بنسټونو ۷۰ سلنه جنرالانو ته تقاعد ورکول کیږي.

**تبصره:**

امریکا او د هغې افغان حکومت د خپلې دغې پرېکړې له لارې غواړي د امت د ځواک مرکزونه چې د هغه په پوځونو کې راټول شوي، د مصر، ترکیې او پاکستان په څېر په بشپړه توګه د مسلمانانو او د هغوی د ویښوونکو سیاسي احزابو له لاسرسي څخه وباسي.

اوس ټولو ته ثابته شوې چې امریکا د افغانستان له جیوپولیټیک موقعیت څخه په سیمه کې د خپلې جنګي پروژې په توګه کار اخلي او په هغه کې د سولې او امن پر ځای جګړه، د پیاوړي مرکزي حکومت پر ځای ضعیف او په کورنیو اختلافاتو کې ښکېل حکومت او ملت ته ترجیح ورکوي. مګر له دې سره په موازي ډول یې د افغانستان په قبایلي ټولنه او حکومتولۍ کې پراخ او بنسټیز ډیموکراتیک بدلون روان کړی دی. په تېر ۱۷ کلن بهیر کې امریکا وکولای شول ترڅو په افغانستان کې د پخواني شوروي نفوذ کابو او د انګلستان، پاکستان، ایران او سعودي له نفوذ څخه په خپله ګټه کار واخلي.

امریکا لومړی د پخوانیو مجاهدینو او کمونیستانو زیات رهبران د خپلو ملګرو په توګه د کرزي حکومت په واکمنۍ کې شریک کړل، مګر بېرته یې د امریکا د پخواني سفیر او ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په سیاسي او نظامي ملاتړ په تدریجي ډول په ډېر مهارت سره یو پر بل پسې له واکه وشړل او پرځای یې غربي تکنوکراتان مقرر کړل، چې د بېلګې په توګه استاد سیاف، امیر محمد اسماعیل خان، یونس قانوني، بسم الله محمدي او په دې وروستیو کې احمد ضیاء مسعود، جنرال دوستم او عطامحمد نور د یادولو وړ دي.

په واک د ورګډو کړو پخوانیو مجاهدینو لسګونه نور یې په ډېر ماهرانه ډول په فزیکي توګه له صحنې څخه ترور او حذف کړل، چې د بېلګې په توګه د حاجي قدیر، برهان الدین رباني، جنرال داوود، جنرال سیدخیلي او احمدولي کرزي نومونه یادولای شو. له دې سره – سره یې لومړی د افغانستان په جنوب او اوس د افغانستان په شمال کې د بېلابېلو استعماري میکانیزمونو په ترڅ کې سلګونه محلي ټولنیز رهبران ترور کړل، چې په افغانستان غوندې قبایلي ټولنه کې د غربي ډیموکراتیک بدلون او فرد پالنې پر وړاندې ستر خنډ ګڼل کېدل.

په افغاني ټولنه کې د امریکا له خوا د دغه بنسټیز بدلون پروسه لا نه ده بشپړه شوې، ځکه لا هم ځینې قومي مشران، پخواني مجاهدین او نظامیان شته، چې د امریکا پر وړاندې جګړې ته دوام ورکوي. هغوی به یا د ګلبدین حکمتیار په توګه د امریکایي لیبرالې سولې له پروسې سره په داسې حال کې یوځای کیږي، چې د تېرو ۱۷ کلونو ډیموکراتیکې لاسته راوړنې به مني او یا به د ټرامپ د جنګي ستراتیژۍ په ترڅ کې د هوایي بمباریو او ډرون په واسطه په بشپړ وحشت سره وژل کیږي.

اشرف غني د امريکا له خوا د شنه ځراغ په رڼا کې له يوې خوا ټوله مالي او اداري واکمني متمرکزه او تر خپله ولکه لاندې راوسته؛ چې په ترڅ کې يې د ملي امنيت پر شورا، د ملي تدارکاتو پر کمېټه، پر اقتصادي کمېټې، د اداري اصلاحاتو پر کميسيون، د ټاکنو پر کميسيون او نورو برخليک ټاکونکو دولتي ارګانونو خېټه واچوله او له بلې خوا يې په حکومت کې د ځوانو استعدادونو او تکنوکراتانو د ځای پر ځای کولو تر نامه لاندې په تدريجي ډول ډېری هغه اسلاميست او کمونيست عناصر له واکه ګوښه کړل، چې د پخواني شوروي اتحاد د يرغل، افغاني جهاد، کورنۍ جګړې او د امريکايي اشغال پر مهال د واک او نفوذ خاوندان شوي وو او دا دی اوس د همدغه بهير په ترڅ کې يې څه دپاسه ۱۶۴ جنرالان متقاعد کړل او په نژدې راتلونکې کې به په تدريجي ډول د امنيتي او دفاعي مسؤولينو ۷۰ سلنه په همدغه برخليک اخته کوي.

په افغاني ټولنه کې د امريکايي بدلون دغه پروسه به د ټولو هغو پاتې پخوانيو مجاهدينو او کمونيستانو لمن هم نيسي، چې لاتر اوسه په حکومت کې واک لري او يا هم په نژدې راتلونکې کې له حکومت سره د ليبرالي سولې د پروسې له لارې يو ځای کيږي. ځکه دا هغه سايکل دی، چې دردوونکی احساس يې يو ځل د بلخ د والي عطامحمد نور په ژبه داسې راڅرګند شو: «امريکا موږ د پيپسي د بوتل په څېر وکارولو او له پيپسي څښنلو وروسته يې ايسته وغورځولو.»

نو موږ د پخوا په څېر يو ځل بيا پر ټولو هغو اسلاميستانو مخلصانه غږ کوو، چې لا تر اوسه په حکومت، اسلامي ډلو او افغاني ټولنه کې د لږ او يا ډېر واک او نفوذ خاوندان دي، ترڅو نور د شرق او غرب ناوړه موخې او پلانونه درک کړئ او په وار- وار دغه ترخه تجربه تکرار نه کړئ. ځکه غرب د ټولنې د يوه نسل د بدلون په ترڅ کې خپل کفري بدلون ته لاره هواروي او تاسو يوازې د ځان د هدايت او خلاصون چانس نه، بلکې د ډېرو انسانانو د هدايت او خلاصون چانس لرئ، هغه دا چې بانفوذه، واکمنان او رهبران ياست. د هر ډول کفري هغه که شرقي وي او که غربي مفکورو او حل لارو (نظامونو) پر وړاندې راپاڅئ، د دنيا دغه لنډ ژوند د الهي ابتلا (افشا کېدو) پروسه وګڼئ، په خپلو تېرو ګناهونو او تېروتنو توبه وکړئ او د راتلونکي لپاره د کفر پر وړاندې د اسلامي امت له سپېڅلې مبارزې سره يوځای شئ، ترڅو په دنيا کې د امت د سترو قهرمانانو په څېر نېک نوم خپل کړئ او په آخرت کې له رسول الله ﷺ سره د کوثر حوض پر غاړه د هسکې غاړې د ملاقات چانس بياموئ.

**سيف الله مستنير**
**د حزب التحرير ولايه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رييس**